ژباړه : نثار احمد « ساپی » دکوټړ پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی محصل
۱۶ جون ۲۰۱۷

## د فطر زکات «سرسایه»

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: والصدقة تطفي الخطئة كما يطفئ الماء النار.جامع الترمذي.

ژباړه. صدقي گناهونه داسي ختموی لکه څرنگه چه اوبه اور ختموي

فطر په لغت کي د روژی ماتولو په معنی د فطر زکات "سرسایه" په اصطلاح که هغه واجب صدقه چه د روژي په ختمیدو سره د روژي د خلاصیدو له پاره ورکول کیږي

مخکي لدي څخه ووایوو چه سرسایه یا زکات فطر د روژي د کفاری او فدیي پوری هیڅ اړه نلري واجب ده په هرمسلمان چه مخکی د آختر د لمانځه څخه خپله او د کور کوم سرپرست یی زکات فطر"سرسایه" ورکړي سرسایه په هرچا واجب ده چه دیوی شپي او ورځي نفقه ولري همدارنگه پر هغه څوک واجب ده چه د خپل او د نورو نفقه پرغاړه لری مثلا میرمن اولادونه یی او کور خدمتگار یی پدی شرط چه دا کس مسلمان وی

ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی "آمر رسول الله صلی الله علیه وسلم بصدقة الفطر عن الصغير والكبير والحر والعبد ممن تمونون. صحيح بيهقي.يعني رسول الله صلی الله علیه وسلم د سرسایی په ورکولو د کوچني، غټ،ازاد او هغه غلام چه پرتاسو یی نفقه ده امر کړی

په یو بل روایت که روایت کی عثمان رضی الله عنه څخه راغلی چه په هغه وخت که د جنین "مور په خیټه که ماشوم"هم سرسایه ورکول کیده د حنبلی مذهب له رویه واجب نه بلکه مستحب ده که یی ورکړی

په یو حدیث که د عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی "فرض رسول الله صلی الله علیه وسلم زكاة فطر صاعاً من تمر او صاعاً من شعير على العبد والحر والذكر والأنثى والصغير والكبير من المسلمين وأمر بها أن تودى قبل خروج الناس الى الصلاة. صحيح البخاري. یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم د رمضان د میاشتي په ختمیدو سره یوه پیمانه خرما یوه پیمانه وربشي د سرسایی یافطر زکات په توگه دهر مسلمان چه غلام وی ازاد ،نارینه وی که ښځه ،کوچني او که غټ فرض کړیده

لیکنه. الحاج داکترامین الدین سعیدي "سعیدی افغاني"

د رمضان المبارک رسالي څخه د فارسي ژبی څخه پښتو ته ژباړه